هفته نامه
# معارف
اوونیزه

روزل شوی نسل
نیکمرغه افغانستان

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تاسیس ۱۳۸۱ شماره مسلسل ۲۲۲ ماه عقرب سال ۱۳۹۶

## وزارت معـــارف ۸۰۰۰ معلـــم جـــدید را استخـــدام مـــی نمایـــد

رهبـــــری وزارت معـــــارف افغانســـتان خرســـند اســـت کـــه حـــدود ۸۰۰۰ معلـــم جدیـــد را بـــرای تـــدریس اولاد وطـــن اســتخدام مــی نمایــد. ایــن پروســه هفتــه قبـل بـا اعلان اخـذ فـورم هـا بـرای بسـتهای مـذکور از سـوی کمیســیون اصـــلاحات اداری و خـدمات ملکـی آغـاز گردیـد. قـرار اســت فــورم هــای درخواســتی بــرای ایــن بســتها در کابــل از دفتــر مرکــزی و در ولایــات از دفــاتر ولایتــی کمیســیون یــاد شــده توزیــع گــردد کــه ایــن رونــد تــا چهــارده روز ادامــه خواهــد داشــت. محمــد کبیــر حقمــل رئــیس ارتبــاط و آگــاهی عامــه وزارت معـــارف میگویـــد: ایـــن بســتها بــر اســاس پیشــنهاد وزارت معــارف از ســوی مقــام عــالی ریاســت جمهــوری منظــور شــده و قــرار اســت از طریــق یــک پروســه شــفاف آزمــون سرتاســری کــانکور اخــذ و افــراد واجــد شــرایط جــذب گردنــد. شــرایط اســتخدام بــرای ایــن بســتها ســند فراغــت لیســانس یــا دارالمعلمــین، داشــتن مهــارت



تــدریس، حاکمیــت بــه مضــمون کــه قــرار اســت کاندیــد تــدریس نمایــد مــی باشــد آقــای حقمــل میگویــد: بــا اســـتخدام ایـــن معلمـــان بخـــش عمـــده مشـــکل کمبـــود اســـتادان در معـــارف کشــور حــل خواهــد شــد.از ســوی دیگـــر وزارت معـــارف افغانســـتان در نظــر دارد کــه همــه ســاله در حــدود همــین رقــم اســتادان را نظــر بــه ازدیــاد تعــداد شــاگردان در مکاتـــب اســـتخدام نمایـــد. همچنـــان هـــزاران بســـت دیگـــر معلمـــان و کارمنـــدان اداری وزارت معـــارف عنقریـــب بـــه اعـــلان ســـپرده خواهنـــد شـــد.رهبـــری وزارت معـــارف فیصـــله نمـــوده کـــه بســـتهای جدیـــد بـــر اســـاس ضـــرورت مضـــمون و رشـــته پـــر خواهـــد شـــد. از همـــین رو قـــبلا کمیتـــه مشخصـــی روی توزیـــع ایـــن بســـتها بـــه مضـــامین، دیپارتمنـــت هـــای مختلـــف کـــار کـــرده و آن را نهـــایی نمـــوده اســـت. در ۸۰۰۰ بســـت جدیـــد اعـــلان شـــده ســـهم هـــر ولایـــت معلـــوم بـــوده و بـــر اســـاس همـــان ســـهم واجـــدین شـــرایط منحیـــث معلمان استخدام خواهند شد.

## سنگ تهداب دو باب مکتب گذاشته شد

کار اعمار دوباب مکتب در شهرک های محمد اعظـم ایـازی و شـهید حمـدی



ناحیه سوم شهر قنـدهار بـه ارزش ۱۶ میلیون افغانی طی سه ماه آینده اعمار و زمینه آموزش برای صدها تن شاگرد مهیا می گردد. محترم زلمی ویسا والی قنـدهار در حالیکـه ریـیس معـارف و شماری از ریش سـفیدان منطقـه نیـز حضور داشتند، حـین گذاشـتن سـنگ تهداب دوباب مکتب گفتنـد: بـه شـما اطمینان میدهیم کـه بـا فـراهم آوری سـهولت هـای لازم تعلیمـی و تربیتـی زمینه یادگیری با کیفیت را برای اولاد وطن مهیا مـی سـازیم. هکـذا بزرگـان قومی اشتراک کننده در این مراسم نیز از اهتمام مقام ولایـت و وزارت معـارف در راسـتای عرضـه متـوازن خـدمات تعلیمی و تربیتی بـرای فرزنـدان شـان ابـراز امتنـان نمـوده و وعـده هرگونـه همکاری را سـپردند.قابـل یـاد دهـانی است که کار ساختمانی تعمیـر جدیـد مکتب محمداعظیم ایازی طی سه مـاه آینده بصورت پخته و اساسی به هزینه ۷،۵ میلیون افغـانی بـه اتمـام خواهـد رسید که دارای ۶ صنف درسـی، اتـاق اداری و سایر ملحقات ضروری خواهـد بود هـم چنـان تعمیـر جدیـد مکتـب شهرک شهید حمـدی بـه هزینـه ۸،۷ میلیون افغانی طی سه ماه آینده اعمار می گردد که ۱۴ صـنف درسـی- اتـاق اداری، لابراتــوار، اتــاق کمپیــوتر وکتابخانه خواهد داشت.

## ورکشاپ یک روزه کارمندان ریاست تفتیش تدویر گردید

دور ســـوم ورکشـــاپ یـــک روزه کارمنـــدان ریاســـت تفتـــیش روزارت معـــارف تـــدویر گردیـــده بـــود بـــه پایـــان رســـید هـــدف از تـــدویر ایـــن ورکشـــاپ بلنـــدبردن ســـطح ظرفیـــت مســـلکی کارمنـــدان ریاســـت تفتـــیش بـــوده کـــه حـــدود ۱۰۰ تـــن اشـــتراک



کننـــده توانســـتند در بخـــش هـــای مـــالی، تـــدارکات، آمـــوزش کمپیـــوتر، شـــناخت نهادهـــا، تحلیـــل و شـــناخت خطـــرات از ســـوی مســـوولین معلومـــات همـــه جانبـــه کســـب نماینـــد برمبنـــای تفاهمنامـــه کـــه فـــی مـــابین وزارت معـــارف و وزارت مالیـــه بـــه امضـــأ رســـیده اســـت وزارت مالیـــه بـــه کمـــک بانـــک جهـــانی مکلـــف اســـت تـــا ســـطح ظرفبـــت وآگـــاهی مســـلکی کارمنـــدان ریاســـت تفتـــیش وزارت معـــارف را از طریـــق راه انـــدازی ســـیمینارها و ورکشاپ ها بلند ببرد.

## د لوګر یوه ښوونځي ته څلور جریبه ځمکه وقف شوه

د لوګر په بره کې برک ولسوالۍ کې د استاد حمید الله فاروقي لومړني ښوونځي ته د ودانۍ جوړېدو په موخه څلور جریبه ځمکه ورکړل شوه. یاده ځمکه د پادشاه خان د کلي اوسېدونکو نورمحمد، حاجي محمدطاهر،محمد اصغر او سید محمد له لوري ورکړل شوې، چې شل لکه افغانۍ قیمت لري. اوسمهال د نومړي ښوونځي شاوخوا ۱۷۰ تنو نجونو او هلکانو ته د ودانۍ د نشتون له امله د کلي په جومات کې زده کړه ورکول کیږي. پردغه وقف شوې ځمکه به د استاد حمید الله فاروقي د نجونو او هلکانو لومړني ښوونځي ته ودانۍ جوړه شي. د یادونې وړده، چې د روان ښوونیز کال له پیله تر اوسه د لوګر ښېر نورو ښوونځیو ته هم ښېر جریبه ځمکه وقف شوې ده .

## لوګر او میدان وردګو کې زر تنه ښوونکو ته د روزنیزو ورکشاپونو لړۍ پیل شوه

د افغانستان د پوهنې وزارت د میدان وردګو او لوګر ولایتونو شاوخوا ۱۰۰۰ تنه ښوونکو ته په بېلابېلو برخو کې د ورتیا لوړولو روزنیز ورکشاپونه پیل کړل. دغه ورکشاپونه په دریو پړاونو کې ترسره کیږي، چې هر پړاو به یې ۱۲ ورځې وخت واخلي .
دا روزنیز ورکشاپونه د ښوونکو د ظرفیتونو د لوړولو او دوی ته د نویو ښوونیزو مېتودونو د ورښودلو په موخه جوړ شوي دي.د روزنیزو ورکشاپونو په دې لړۍ کې د میدان وردګو ولایت د مرکز میدان ښار په ګډون د بهسودو د لومړۍ حصې، سیدآباد، نرخ او چک ولسوالیو شاوخوا ۵۰۰ ښوونکي برخه لري. دغه راز د لوګر ولایت په مرکز پل علم سربېره د محمدآغې، بره کې برک، خرخ او خوشي ولسوالیو کې ۵۰۰ ښوونکي، چې ۶۰ تنه یې ښځینه دي، ګډون لري.روزنیز ورکشاپونه د ښوونکو د ظرفیت په لوړولو کې مثبتې اغېزې لري له همدې امله پوهنې وزارت هڅه کوي، چې له دې لارې د ښوونکو مسلکي وړتیاوې لوړې کړي. د یادولو وړ ده، چې ددغو روزنیزو ورکشاپونو لړۍ به نورو ولایتونو ته هم وغځول شي .

سرمقاله:

## پلان استراتیژیک سوم معارف نقطه چرخش سترگ بسوی معارف باکیفیت

مبرهن است که تعلیم وتربیه یکی از پایه های اساسی پیشرفت واصلاح جامعه بوده ویگانه راه که امروز جامعه بشری رابه مدارج عالی تمدن وقله های شامخ ترقی وتعالی رسانیده و انسانها توانسته اند از یمن آن تمام سهولت های یک زندگی مرفه وراحت را بدست آروند، همانا علم ودانش است.باتوجه به این اصل دولت جمهوری اسلامی افغانستان ازهمان بدو تاسیس خویش ، بسط و توسعه سواد وبازسازی عناصر اساسی ومتشکله نظام معارف را که عبارت از داشتن معلمان مسلکی، فضای سالم تدریسی ، نصاب تعلیمی معیاری وکتب درسی است ، در محراق توجه خود قرار داده ودر جنب نوسازی وبازسازی سایر عرصه ها ، اهتمام جدی به معارف نیز نموده است. بناً ایجاب می نمود تا تمام فعالیت ها را درچوکات پلان ها وبرنامه های قصیر المدت وطویل المدت جمع بندی نماید،وزارت معارف نیز درسال ۱۳۸۵ خورشیدی اولین پلان استراتیژی ملی پنج ساله را از طریق پروسه مشارکتی با همکاران انکشافی ومو سسات تمویل کننده معارف ، ترتیب نموده وبه منصه اجرا قرار داده و از این طریق مسیر و حیطه های انکشاف تعلیم وتربیه را معین و عملکرد های همکاران انکشافی را انسجام بخشید. بعد از تکمیل این پلان ، دومین پلان استراتیژیک ملی معارف افغانستان در سال ۱۳۹۰ خورشیدی ترتیب واز سوی شرکای انکشافی معارف به تصویب رسید که خوشبختانه به اساس آن افغانستان عضویت « مشارکت جهانی برای تعلیم وتربیه» را حاصل وتوانست از این طریق مبلغ ۵۵.۷ میلیون دالر را ازجامعه جهانی بدست آورد.اینک اخیراً طی نشست مطبوعاتی که با حضور هیات های بلند پایه دولتی از ارگان های مختلف، رهبری وزارت معارف و روسای معارف اعم از مرکزی و ولایتی دایر گردیده بود پلان استراتیژیک سوم ملی برای سال های ۱۳۹۶-۱۴۰۰ که توسط وزارت معارف از طریق پروسه مشورتی با طرف های ذیدخل وتمویل کنند گان بین المللی تهیه گردیده بود رونمایی گردیده ومفردات آن توضیح وتشریح شد که توام با حمایت دولت جمهوری اسلام افغانستان و درنتیجه ۱۰۰ میلیون دالر کمک مالی اضافی از« مشارکت جهانی برای تعلیم وتربیه » را بدست می آورد. وزارت معارف افغانستان باور دارد که علرغم مشکلات و چالش های موجود، باعملی شدن این پلان تغییرات ژرفی در بهبود وضعیت معارف افغانستان رونما خواهد شد واز آن طریق می توان به کیفیت مطلوب نظام آموزشی کشور، دسترسی متوازن و همگانی اطفال به تعلیم و مدیریت شفاف و موثر دست یافت.

## د خپلو ماشومانو لپاره یوه ښه بېلګه او الګو و اوسیږئ

د میندو او پلرونو سم عمل، کردار او رفتار د ماشومانو د سمې او سالمې ښوونې او روزنې اصلي او بنسټیز عامل ګڼل کیږي، مور نشو کولای له ماشومانو څخه دا هیله ولرو هغه څه چې مور يې په خپله تر سره کوو، هغوی يې تر سره نه کړي، کله چې ماشومان ګوري پلار یا مور يې د نورو غيبت کوي، په نورو ملنډې وهي یا نور له ځانه کم ګڼي یا له خپلو خپلوانو، همکارانو او کلیوالو سره حاکمانه رفتار یا خبرې کوي؛ نو بې له شکه چې ماشومان يې هم همدغه کردار او رفتار خپلوي او د ځان لپاره الګو ټاکي. ماشومان با ظرافته مقلدین دي، ماشومان د میندو او پلرونو پیښې کوي، هغوی هر څه له خپل مور او پلار څخه کاپي کوي، لورګانې د مور او هلکان د پلار په شان کردار تر سره کوي. ماشومان حتی د مور او پلار د غبږ «تون» ژیست (حرکات)، په لاره تګ، کیناستل، ولاړیدل او د نورو په وړاندې غبرګون ښودل هم د ځان لپاره الګو او نمونه ټاکي او وورسته د همدغې نمونې له مخې خپل عمل، رفتار او کردار عیاروي.ماشومان، هغه جملې او کلیمې چې تاسو يې په کومه طریقه استعمالوی او هغه څه چې تاسو يې په لټه کې یاستی، پیدا کوي او بیا وروسته ورته د عمل جامه ور اغوندي. که یوه مور یا پلار بهرنیو هیوادو (امریکا، کاناډا، جرمني...) ته د تلو هیله په سر کې ولري، ماشومان د هغو دغه هیله مومي او د نوموړي هیلې د پوره کولو لپاره لاره لټوي او د هغې په هکله له خپلو ملګرو، ټولګیوالو او نوور سره خبرې شریکوي، بحث او مباحثې کوي؛ نو میندو او پلرونو ته په کار ده چې خپل بیلګه ییز رول ته ډېر پام وساتي او هېڅکله داسې عمل تر سره نکړي چې د ماشومانو د ناوړه زده کړې اسباب را منځته کړي. ښوونکي هم چې ماشومانو ته د معنوي پلار یا مور حیثیت لري عینې مقام او ځای لري، ماشومان چې هر ورځ ډېر وخت په مکتب او مدرسه کې تیروي زیات شیان له خپلو ښوونکو څخه زده کوي، د ښوونکو خبرې، حرکات، رفتار او کردار د زده کوونکو لپاره دومره اغېزناک او په زړه پورې وي چې د عمر تر پایه پورې يې نه هیروي، تاسو به لیدلي وي چې مشران، د پوهنتونونو استادان، وزیران، صدر اعظمان او ولسمشران د خپلو استادانو، د ژیست، حرکاتو، خبرو رفتار او کردار په باب په لویو، لویو غونډو او مجلسونو کې یادونې کوي او د هغوی ویناوې او اعمال د نورو د قانع کولو لپاره بېلګه او مثال ګرځوي؛ نو درنو میندو، پلرونو، ښوونکو او استادانو ته په کار ده چې د خپلو اولادونو او زده کوونکو د سالمې روزنې لپاره هغوی ته یوه ښه الګو او نمونه و اوسي، که چېرې پلار سګرټ څکوي، یا نسوار کوي، یا میندې او پلرونه هر ورځ په خپل کور کې سره جنجال کوي د دې هیله دې نه لري چې ماشومان به يې تر دې ښه عمل تر سره کړي، هیڅ هغه مور او پلار او دغه راز ښوونکي چې په خپله کوم خلاف کار تر سره کوي نشي کولای خپل ماشومان یا زده کوونکي له هغه څخه منع کړي او که چېرې يې منع هم کړي؛ نو په خبرو کې به يې دومره اغېزه نه وي لکه د کوم مور او پلار او ښوونکي چې په خپله د لوړو اخلاقو او تهذیب خاوندان او نمونه وي.ځینې میندې او پلرونه شته چې ماشومان وهي او ټکوي چې درس ولولي او دغه کار ورته ډېر اسانه ښکاري نظر دیته چې هغوی ته درس ور زده کړي، دغه عمل ماشومان سرکښه او یاغي کوي، د دې لپاره چې ماشومان ښه زده کړه وکړي د ښو، لایقه او وتلو کسانو نمونې وریادې کړئ، ماشومانو ته ور وښایاست چې د زده کړې په بهیر کې ستونزې خامخا شتون لري او تاسې باید له ستونزو سره مقابله وکړئ، خپلو ماشومانو ته د دروغ ویلو، غلا، د بیکاره خلکو سره د ناستې پاستې، خرابو فلمونو د کتلو، قمار، شرابو، چرسو او نورو محفلونو کې د ګډون کولو د بدو عواقبو په باب معلومات او زده کړه ورکړئ، د دې لپاره چې ماشومان دیندار، تابع او الهي احکام په ځان تطبیق کړي په خپله نوموړي کردار خپل کړئ. له خپلو ماشومانو سره په ډله ییزو کارونو، جوماتونو ته تلو او جماعت د لمانځه په اداء کولو کې برخه واخلئ او د هغه څه په باب چې د انسان ضمیر پرې ښکلی کیږي او انسان ته سکون وروبښي معلومات ورکړئ، څو ماشومان مو



د دین او دنیا له ښکلاوو څخه خوند واخلي او ژوند ورته ښکلی او ښایسته شي، له دین او مذهب پرته دینوي مؤقتي ژوند هیڅ ښکلا نلري،نظم او انضباط له یاده مه باسئ، ځینې میندې او پلرونه کوښښ کوي خپل ماشومان، د شیریني، چاکلیټ او نورو خوراکي موادو په ورکولو او نورو خواهشاتو په پوره کولو قانع کړي، چې خپلې ورځنۍ چارې ترسره او سم رفتار او کردار غوره کړي، ماشومان دلوښو په ماتولو، شوخۍ، ژړا، او نورو لارو چارو سره خپل پلار او مور دې خبرې ته اړ باسي چې د دوی غوښتنې ومني چې دلته مور او پلار ته نه ښايي چې د رشوت په ورکولو سره خپل ماشومان روږدي کړي؛ نو په کار ده چې په کورنۍ کې نظم او دسپلین ټینګ او ماشومان د هغو په مراعات کولو عادت کړئ، ځینې میندې او پلرونه په دې عقیده دي، چې د اولادونو د سالمې ښوونې او روزنې لپاره باید له مینې او محبت څخه کار واخلي او بیا ځینې نظم او انضباط ته لومړیتوب ورکوي، خو دا کاملاً بې بنسټه خبره ده، ځکه چې د ماشومانو د سالمې روزنې لپاره هم مینه او هم نظم او انضباط په کار دی، د نظم او انضباط د ساتلو لپاره وهل او ټکول ښکنځل، توهین او تحقیر، په هیڅ وجه د حل لار نده د روانشناسۍ پوهان له هغو میندو او پلرونو سره چې د ماشومانو په وړاندې خپله حوصله بایلي او د قهر په وخت کې ماشومان وهي او ټکوي، سخت مخالف دي. تاسو کولای شئ چې د اولادونو د سالمې ښوونې او روزنې لپاره د مینې او محبت تر څنګ کورنۍ نظم او انضباط ټینګ وساتئ او هغه اولادونه چې خبره نه مني او خپلې غوښتنې د لجاجت له لارې پوره کوي د بندیزونو په لګولو؛ لکه: د تلویزیون نه کتل د کور له موټر څخه نه استفاده کول، سیل او تفریح ته نه بوول او دغه راز نورو امتیازاتو څخه په محرومولو کولای شي خپل اصلي مسیر ته راوګرځوي.یو ځل بیا یادونه کوم چې بدني تنبه په هیڅ صورت د منلو وړ نده، هغه ماشومان او تنکي ځوانان چې د پورته ذکر شویو بندیزونو سره سره د مور او پلار له اوامرو او سالمو غوښتنو سرغړونه کوي، د هغو امتیازات نورو اولادونو ته ورکړي، دغه چاره باید ډېره اوږده نه وي او د عمل مطابق وي، د ماشومانو او تنکیو ځوانانو استعدادونه سره توپیر لري د تنبه کولو په وخت کې باید ورته پاملرنه وشي، تنبیه باید د ماشوم له استعداد او اغېزمنتوب سره برابره وي، ماشومان باید په دې پوه شي چې د څه لپاره تنبیه شوي دي، د یو کوچني جرم لپاره سخته سزا مه ورکوئ، د نظم او انضباط ټینګول د انتقام معنی نلري، ماشوم باید په دې پوه شي چې د ناوړه عمل سزا همدا ده درنو میندو او پلرونو! د مور غېږ د انسان د زده کړې لومړنی زانګو ده او د زده کړې لومړني توري، کلیمې او جملې له همدې ځایه زده کیږي، تاسو چې د خپلو اولادونو ښې راتلونکې ته په تمه یاست؛ نو د هغوی د ښې روزنې لپاره ځان، د اخلاقو او ښه شخصیت نمونه او الګو وګرځوی؛ څو نور يې له تاسو زده کړي.

گل رحمان رحمان

## ننگ او نام

هم جام په لاس کې راکړي او هم جام راځينې اخلي
دا وخــت هم انـتقام د كــوم انـجام راځينې اخلي
دمينې لفظ ځو توري دي خونه يې راوړم په ژبه
پوهيږم چې يو وخت به انـتقام راځينې اخلي
پرون يې د پل نښې راته ورانې كړې پر لارې
حيران يم چې دا نن څنګه سلام راځينې اخلي
ګوګل نه مې دتينګې عقيدې مهراب جوړ كړى
منبر مې ورانوي د زړه امام راځينې اخلي
بس ښه خبره وشوه زه د غره شوم ته دسمې
ګل رخې په زارۍ ماښو په پام راځينې اخلي
آرينه له مرچله كوزيدلى څكه نشم
هم ننګ راځينې اخلي او هم نام راځينې اخلي

راليږونكى: شهاب الدين

## حيف

قدر هر لحظه عمرت كه ندانى حيف است
به هدر گر گزرد دور جوانى حيف است
اى كه امروز چو شيرى تو بخود توشه بساز
روز فردا كه تحرک نتوانى حيف است
احترام پدر و مادر خود دار هميش
با بزرگان به سخن زشت زبانى حيف است
مرتب آدمى و مقصد انسان بودن
بى خبر بودن از اين راز نهانى حيف است
نو نهال كه شده زرد ز آسيب زمان
قطره اشكى تو برآن گرنه چكانى حيف است
قدر ياران موافق تو بدان در همه عمر
يار خودرا اگر از خويش برانى حيف است
گُل به هنگام بهاران و زمستانش برف
برگ ريزان خوش فصل خزانى حيف است
اى حبيب گرچه كه اين عمر سريع ميگزرد
يادگارى اگر از خويش نمانى حيف است

ارسالي: حبيب الله

## پاڅه!

د شپې دربيمه برخه رارسيدلې ، هرې خواته چوپه چوپتيا خواره ده ، خلك په درانه خوب ويده دي ، د اسمان په تتهر ځليدونكي ستورې شغلې كوي ، شپه ورو ورو د سحر په لور ور روانه ده ، نيردې ده ، چې خپل ځاى رڼا ته پريږدي.

پاڅه !

خپل محبوب خداى ج ته د سوال او زاريو ، عبادت او نيږدې كيدو بهترينې شيبې دي ، هغه شيبې چې د زړه آه او دعا پكې عرش ته رسيږي ، هغه شيبې چې د اسلام ستر لارښود يې د غوره والي ذكر كړى دى.

پاڅه!

د څراغ تتې رڼا ته له خپل محبوب خداى ج سره خپله مينه په ډاګه كړه ، خپل تندى د ستر خداى ج د رضا په خاطر په خړو خاورو ولګوه ، په ژړا ژړا ترې د مغفرت غوښتنه وكړه.

هله نو؛ همدا د غوره عبادت او خداى ج ته د نيږدې كيدوبهترين وخت دى ، هغه وخت چې روح پكې سكون مومي او خداى ج ته پكې سړى نيږدې كيږي.

اراليږونكې: فاطمه

## سکروټې

د سرو سكروټو په بسترمې ګزران چرته كيږي
زما د برخې په اورونو باران چرته كيږي
ستامحبت كې تر لمنې مې شليدلى ګريوان
په ما د خلكو اوس د روغو ګمان چرته كيږي
نن مې په لاس ورله د زړه په وينو ګل جوړوو
جانان ويل دا د نكريزو پشان چرته كيږي
زه بدقسمته په غمونو كې ژوندون تيروم
د زړه په للمه مې د مينې ګلان چرته كيږي
د ښكلو عشق كې مې ځواني او خاني دواړه بايلل
وايه رقيبه تانه دغه تاوان چيرته كيږي
زړګيه مه وينه خوبونه په سنګل د جانان
ليونى كيږه مه د ځمكې آسمان چرته كيږي
خياله د دې دور پې مخو كې وفا چرته ده
په بتخانو او به مندركې آذان چرته كيږي

راليږونكى: صدف

## سجده

گر كه نبخشد او مرا بر در كى رجوع كنم
شرک بوّد به بندگی سجده اگر جُز او كنم
بنده بى بضاعتم ، هيچ نكرده طاعتم
ليک به عُجز و عاجزى عفوه وى ارزو كنم
كعبه نميروم كه من قيد سراى او شوم
چون به هواى اوشوم سجده به چهار سو كنم
مايه معصيت منم ، دور ز اهليت منم
روز جزا چگونه ؟ من قصه روبرو كنم
عمر اگر كند غروب ، بر من غرق در عيوب
بار ديگر زلطف او از سر نو طلوع كنم
چون بوجود خويشتن مينگرم نشان ازاوست
من كه خودم از آن او پس به چى چيزى خو كنم
هيچ كسى جز او چونيست واقف رمز وراز من
شب بدعا و اشک وغم صحبت دل بدو كنم

ارسالي:شعيب ورسجى

## درې رواجونه او يوه نړۍ غمونه

سرمؤلف مرستيال استاذ عنايت الله (عادل)

د دريو رواجونو تر سرليك لاندې مطلب لومړۍ برخه موپه تيره ګڼه كې چې ( په مړي پسې خيرات) موضوع وه خپره كړه دا دى د همدى مطلب په دوام په دوهم رواج باندې چې د بدل واده موضوع ده له تاسودرنو لوستونكو سره شريك وو.

د بدل واده

يوه بله ټولنيزه ستونزه چې موږ ورسره لاس اوګريوان يو هغه په بدلانه سره واده كول دي، يوه انجلۍ د بلې نجلى په بدل كې چې په عربي ژبه كې ورته شغار وايې ودوي، په اسلام كې د دغه رواج هېڅ اصل نشته؛ نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: (لا شغار فى الاسلام) په اسلام كې شغار نشته، ډېرعلما يې ردوي او امام ابوحنيفه د مهر مثل په ټاكلو سره اجازه وركوي، دا ډول ودونه په اسلامي نړۍ كې رواج لري او لامل يې د مهرونو لوړېدل وي، خلك نه شي كولاى په ولور واده وكړي نو خپله لوراو يا خور د خپل ځوان زوى لپاره په بدل وركوي. دا ډول واده ډېر څله ستونزې را منځته كوي اود ټولو ستونزو قرباني مظلومه ښځه وي، او د هرې سختۍ پور ادا كوي، نه يوازې دا، بلكه دواړې كورنۍ خوابدې او دوستي يې ټپي ټپي شي، او تر مينځ يې د مينې تله راتله په دښمنۍ واوړي.

## پوهاند رسول امين د پوهنې اته ديرشم وزير

ګل آغا احمدي وردګ

ښاغلى پوهاند رسول امين د ۱۳۸۰ كال د مرغومي د مياشتې څخه د ۱۳۸۱ كال د غبرګولي تر مياشتې پورې د افغانستان د پوهنې وزير وو. ښاغلى پوهاند عبدالرسول امين د محمد امين خان زوى د ۱۳۱۸ كال د كنړ ولايت د وټه پور كلي كې زيږېدلى او د ۱۳۸۷ هجري لمريز كال د آستراليا په ملبورن ښار كې وفات شوى دى. ښاغلي پوهاند رسول امين لومړنۍ زده كړې په افغانستان كې سر ته رسولې او د لوړو زده كړو لپاره پېښور ته تللى په يو كال كې يې د انګريزي او اردو ژبې كورسونه تعقيب او منځنۍ زده كړې يې د (فاورډ سكول اينډ كالج) تعليمي موسسه كې بشپړې كړې دي. ښاغلى رسول امين د لوړو زده كړو لپاره په ۱۳۳۹ كال د پېښور اسلاميه كالج ته شامل شوى چې لومړى يې لېسانس او په ۱۳۴۵ كال يې له نوموړي پوهنتون څخه د ماسترۍ سند ترلاسه كړى دى. د لوړو زده كړو له بشپړېدو څخه وروسته ښاغلى پوهاند امين افغانستان ته ستون او په بيلابيلو علمي او حكومتي دوايرو كې يې دندې سر ته و رسولې. هېواد ته تر راستنېدو وروسته ښاغلى پروفيسور امين د پښتو ټولنې علمي غړى شو او د كابل پوهنتون د ادبياتو او بشري علومو په پوهنځي كې يې د ټولنيزو علومو د استاد په توګه دنده پيل كړه. په ۱۳۵۸ كال كې ښاغلى امين د هېوادپالنې په جرم د وخت د رژيم له لوري زندان ته و لېږدول شو او له جېل څخه تر خلاصېدو وروسته يې د شوروي د يرغلګرو لښكرو څخه د هېواد د نجات په موخه په عملي جهاد كې برخه واخيسته. ښاغلي پروفيسور امين د ۱۳۵۹ څخه تر ۱۳۶۷ كالو پورې په پېښور كې د ملي اسلامي محاذ د ګوند په تشكيلاتو كې د سياسي فعاليت تر څنګ د افغان اطلاعاتي مركز تاسيس كړ. په ۱۳۶۴ كال كې ، چې د ښاغلي پروفيسور امين او يو شمير نورو افغانانو له خوا د آزاد افغانستان د ليكوالو ټولنه (وفا) جوړه شوه، نوموړى يې د رييس په توګه



وټاكل شو چې وروسته ياده ټولنه د افغانستان د مطالعاتو د مركز په نوم و نومول شوه او د افغانستان په نامه يې يوه څېړنيزه مجله هم خپروله. د بن د تاريخي پريكړې وروسته په افغانستان كې لنډ مهاله اداره رامنځته شوه، ښاغلى پوهاند رسول امين د پوهنې د وزير په توګه وټاكل شو او د پوهنې وزارت ۱۳۸۱ تعليمي كال په دې شعار سره پيل كړ (راځئ چې سبق ووايو). ښاغلي پروفيسور رسول امين و توانېد چې د تاريخ په يو حساس پړاو كې د پوهنې د وزارت مشري وكړي او د خپل شپږ مياشتني ماموريت په جريان كې يې د وران او جګړه ځپلي پوهنيز نظام د رغولو لپاره ځينې لومړني بنسټونه كېښودل او تر اوږدې غميزې وروسته د هېواد څلور ميليونو نارينه او ښځينه زده كوونكو ته يو ځل بيا زمينه برابره شوه چې د خپلو ښوونځيو او تعليمي موسساتو لوري ته په خوښۍ او له روښانه هيلو څخه په ډكو زړونو ورشي او په ډاډ سره خپل ليك لوست پيل كړي. پروفيسور رسول امين په مختلفو موضوعاتو كې د ګڼو آثارو د ليكلو وياړ لري چې ځينې چاپ شوي او په دې آثارو كې تر ټولو مهم كتاب (افغانستان د تاريخ له خطرناك پېچومي تېرېږي) چې په ۱۳۷۵ كال كې چاپ شوى دى.

Weekly Marif Newspaper

Established 2002, Issue No 222, Month November 2017

Ministry of Education Cultural and Social Issue

# لوګر کې د ۲۶ ښوونځيو د ترميم چارې پيل شوې

د لوګر په مرکز او ولسواليو کې د نجونو او هلکانو د ۲۶ ښوونځيو



ودانيو بیارغاونې او ترميم چارې پيل شوې.د لوګر د پوهنې رييس انجنير محمد اکبر ستانکزي د يادو ښوونځيو د ترميمولو تړون د لاسليک پر مهاَل وويل، چې د دغو ښوونځيو په رغوني سره به په ښوونځيو کې مثبت پرمختګ رامنځته شي.نوموړي د قرارداد کوونکي شرکت له مسوولينو څخه وغوښتل، چې د ښوونځيو د ترميمولو چارې په سمه توګه او د پروپوزل مطابق ترسره کړي .

نوموړی ښوونځی د پوهنې وزارت د پراختيايي بودجې له لارې په اساسي ډول بيارغول کيږي، چې پر بيارغونې يې لس ميليونه درې سوه زره افغانۍ لګښت راځي. د دغو ښوونځيو له جملې څخه ديارلس په مرکز، څلور په بره کې برک، پنځه په محمدآغې، درې په خروار، او يو ښوونځی په خوشۍ ولسوالۍ کې رغول کيږي.

د يادونې وړده،چې په لوګر کې تير کال هم ۲۲ ښوونځي د پوهنې وزارت د پراختيايي بودجې له لارې رغول شوي وو.

# لیسه نسوان توتیا مهد آموزش و پرورش بانوان کشور

روند معارف طی چند سال اخیر سیر صعودی خود را می پیماید تعداد شاگردان درنهاد های تعلیمی از سالی به سالی دیگر در حال افزایش بوده استخدام معلمان از طریق رقابت آزاد که کاملاً یک پروسه شفاف است صورت می گیرد وزارت معارف جمهوری اسلامی افغانستان برای معلمان و استادان که سویه تحصیلی شان پائین و فارغ صنف ۱۲ می باشد دارالمعلمین های را به سطح ولایات و ولسوالی ها ایجاد کرده تا معلمان یاد شده بتوانند سطح دانش مسلکی و آگاهی های شان را در عرصه بهبود کیفیت معارف بالا ببرند و بعد از کسب این مهارتها بتوانند از میتود ها و روش های مدرن و مروج دنیا استفاده کرده تا کیفیت در معارف به مدارج عالی آن برسد نشریه معارف به سلسله معرفی نهاد های تعلیمی کشور اینبار لیسه نسوان توتیا را به معرفی می گیرد که توجه شما خوانندگان را به آن جلب می نمایم. لیسه نسوان توتیا درسرک چهاردهم سید



نورمحمد شاه مینه (کارته نو) مربوط حوزه هشتم تعلیمی موقعیت دارد. در رابطه به چگونگی و تأسیس این مکتب شریفه نوری مدیره لیسه چنین میگوید: لیسه نسوان توتیا در سال ۱۳۴۶هـ ش بنام شاعره معروف افغان میرمن توتیا به شکل ابتدایی که دارای ۶ شعبه تدرسی بود تأسیس گردید که بعداً درسال ۱۳۶۷ به متوسطه و درسال ۱۳۹۱ به لیسه ارتقاء کرد. قابل یاد آوریست که امور تدریسی این لیسه از سوی۱۳۴ تن معلم که ۳۱ تن ازین معلمان سویه تحصیلی شان لیسانس ۹۸ تن آنان ۱۴پاس و باقی ۵ تن دیگر آن (بکلوریا- ۱۲ پاس) میباشند. به پیش برده میشود این لیسه در سه بلاک دو منزله دارای ۴۸ اتاق درسی و ۵ اتاق اداری در سه تایم آماده خدمت به اولاد وطن می باشد که در پهلوی این شعبات درسی یک باب کتابخانه نیز موجود است اداره لیسه جهت آموزش عملی برای شاگردان یک اتاق کمپیوتر و یک لابرتوار مجهز (کیمیا و بیولوژی) را نیز دارا میباشد لیسه توتیا دارای هفت آمریت (دیپارتمنت) بوده که ۹۹۹۹ تن شاگرد درین لیسه به فرا گیری علم و دانش مصروف می باشند.

عبدالصبور غفرانی

# اهتمام به اهداف آموزشی معارف

متاسفانه تداوم جنگ درکشورعزیزما صدمات جبران ناپذیر به تمام بخش های اقتصادی ، صنعتی ، زراعتی ، علمی و سایر عرصه ها از جمله به نظام آموزشی و سیستم تعلیم و تربیه وارد نموده است که به اثر آن بهترین کادرهای علمی خویش را از دست دادیم و یا هم متواری و مهاجر بعد ازایجاد دولت جمهوری اسلامی افغانستان بدون شک دولت در همکاری،حمایت و کمک های جامعه جهانی در کنار بازسازی و نوسازی سایر عرصه ها،توجه جدی به احیا و انسجام عناصر اساسی نظام معارف در کشور نموده است با توجه به اینکه یگانه راه بیرون رفت ازعقب مانی و بدبختی همانا موجودیت نظام آموزشی قوی و امحای بی سوادی در جامعه می باشد.وزارت معارف ضمن جذب اطفال بازمانده از روند آموزش طی سالهای جنگ بروفق ضرورت به استخدام معلمان،تأسیس و اعمارمکاتب، و تألیف کتب جدید تعلیمی مطابق به تقاضاءعصر نوین مبادرت ورزیده است.تدوین وتطبیق پلان های استراتیژی ملی اول ، دوم و سوم را با لترتیب با گذشت زمان های معین آن با مشورهء همکاران بین المللی وموسسات تمویل کننده روی دست گرفته و یکی بعد دیگر به منصهٔ اجراء قرارداده است که شاخص های مهم آنرا می توان به صورت آتی خلاصه کرد.

**آموختن سواد،و یک حرفه** : معینیت سواد آموزای وزارت معارف با توجه به وضعیت بد اقتصادی خانواده ها و نرخ بیکاری در جامعه به همکاری مؤسسات کمک کننده و با استفاده از تجربیات کشور های مشابه افغانستان در جنب آموزش سواد ( خواندن، نوشتن، حساب کردن ) سعی نموده است تا آنعده هموطان عزیز ما که نیاز به آموزش یک حرفه و مسلک دارند مطابق به نیاز مندی های منطقوی شان برای ایشان یک حرفه از قبیل باغداری،مرغداری ، فلزکاری ، چرمگری ، نجاری و برای خانم ها خامک دوزی،خیاطی ،قالین بافی و غیره آموزش داده می شود که دراین راستا می توان ازکوشش ها و همکاری های فدراسیون ملی یونسکوی جاپان یامؤسسه جائیکا نام برد که با ایجاد مراکز آموزشی محلی یا (CLC) در شماری از نواحی شهر کابل ولسوالی های ولایت کابل و یک تعداد ولایات عملاً کار را آغاز کرده که نتایجی ملموس را داشته است .

**آموختن دانش**: بخش عمده کار وزارت معارف توجه جدی به تعلیمات عمومی بوده که وزارت معارف با ایجاد مکاتب جدید معیاری دارای کتابخانه ها،لابراتوارها ،اتاقهای کمپیوتر، میادین ورزشی و ... استخدام معلمان مسلکی، تدوین نصاب تعلیمی جدید وواحد علمی مطابق به پیشرفت های علمی معاصر، جذب اطفال واجد شرایط مکتب زیرچتر نظام آموزشی کشور می باشد اما دراین عرصه در تطابق به پلان استراتیژی سوم در نظراست تا تمام اطفال واجد شرایط به مکتب جذب مراکز تعلیمی و تربیتی کشور شوند که توجه مضاعف به شمولیت دختران می باشد. ارتقای ظرفیت معلمان و فراهم آوری زمینه ادامه تحصیلات به سویه های لیسانس،ماستری برای منسوبان معارف از جمله معلمان. با زنگری متداوم به نصاب تعلیمی و کتب درسی همگام با پیشرفت های علمی و تخنیکی جهانی می باشد.

کسب مهارت های تخنیکی و مسلکی : معینیت تعلیمات تخنیکی و مسلکی وزارت معارف در تفاهم با همکاران بین المللی و دونرها با ازدیاد مراکز تعلیمات تخنیکی و مسلکی پرداخته و نظر به ضرورت ها ونیازمندی های مارکیت کاردر کشور دیپارتمنت های آموزشی حرفه های مورد ضرورت را ایجاد نموده است تا جوانان عزیزما بتوانند در جنب خدمت به وطن با ایجاد و گشایش شعبات کاری تولیدی و ترمیماتی و ورکشاپ ها صاحب درآمد مالی و اقتصادی هم شوند.

**بخش تعلیمات اسلامی**: ریاست تعلیمات اسلامی این وزارت نیز از آغاز کار نوسازی و بازسازی در وزارت معارف با توجه به نیازمندی های جوانان ما به آموزش آموزه های دینی واسلامی به سطح معینیت تعلیمات اسلامی ارتقأ یافته که اهتمام جدی به بسط و توسعه مراکز تعلیمات اسلامی اعم از مدارس دینی، دارالعلوم هاو دارلحفاظ ها درسراسرکشورگردید که شمار آنها فعلاً به اضافه از ۱۱۰۰ باب می رسد.اما دراین زمینه نیز وزارت معارف کار را بسنده ندانسته در صدد ادامه ایجاد و تأسیس همچو مراکز در دور ترین نقاط کشور می باشد تا فرزاندان افغان با عطشی که به آموزش اسلامیات دارند، با فراهم آوری سهولت های لازم به آن دسترسی یابند وجوانانیکه علاقمند به آموزش تعلیمات اسلامی هستند نیاز رفتن به خارج از کشور را نه داشته باشند.هم چنان این وزارت در نظر دارد تا با تطبیق پلان استراتیژیک سوم ارتقای سویه علمی ورشد ظرفیت تخصص کارمندان معارف در بخش های انکشاف نصاب تعلیمی، تربیه معلم،مدیران مکاتب، اعضای نظارت تعلیمی،پلانگذاری تعلیمی و سایر بخش های تخصصی را یکی ازاولویت های کاری وفعالیت عمده درنظر گرفته و درمحراق توجه قرار داده است.چنانچه گفته شد تعداد قابل ملاحظه کارمندان به صنوف ماستری در پوهنتون های افغانستان معرفی گردند تا یک کتلۀ تاثیر گذار متخصصان درنهادهای وزارت معارف حضور یافته تا نتایج تعلیمی را باتوقعات فراگیر متقاضیان، والدین شاگردان، ضرورت های جامعه و بازار کار افغانستان وفق دهند.

مسوول مدير: محمد نسيم "عياذ"

کتنپلاوي: محمد کبير حقمل- معراج زماني- استاد ګل رحمان رحمان
عبدالصبور غفراني - سرمؤلف مرستيال عنايت الله عادل - محمد اکرم وفادار

خبريال: - محمد اشرف رسولي

کمپوز و ډيزاين: بريالی رحمانزی

شمير: ۵۰۰۰

ديجيتل: (۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳)

ايميل: marif.newspaper.moe@gmail.com

پته: دکابل ښار، محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د اړيکو او عامه پوهاوي رياست، د پوهنې اوونيزې مديريت